rib
REFUGEES INTO BUSINESS

# د RIB د پروژې لنډیز

دا لنډیز په ګڼ شمېر ژبو کښې ژباړل شوی دی. د نور پاتې ویب سایټ ژباړه نۀ ده شوې ځکه چې که تاسو غواړې په برتانئې کښې یو بریالی او ګټور کاروبار ته وده ور کړئ نو د دې لۀ پاره د انګلیسي ژبې په ښۀ توګه سره پوهه تقریباً لازمه ده.

'کډوال په کاروبار کښې' (refugees into business) ولې؟

کډوال د ځایي وګړو په نسبت د وزګار پاتې کېدلو شپږ ځله ډېر احتمال لري. دا د هغوی د هنرونو او استعدادونو په یو غټ کچ باندې ضائع کېدل دي. د دې د مخنیوي یوه لاره دا ده چې د کاروبار یا ټولنیزې پروژې پېل کولو په اړه فکر وکړی شي.

**خو که دا هم دومره اسانه وه!**

د نورو ډېرو بې ګټې ټولیو په څیر، کډوال که غواړي کاروبار پېل کړي نو ګڼ شمېر خنډونه ئې په لار کښې راځي. په دې خنډونو کښې د وړتوبونو نۀ منل، مالي مرستو ته رسېدنه، ژبه، معلوماتو ته رسېدنه، توپیر کوونکې رویه، د واکمنۍ په اړه شک او د برتانوي د کاروباري کلتور په اړه د پوهې کمی غوندې خبرې شاملې دي.

د کډوالو ټولنیز تنظیمونه د کاروبار لۀ پاره د بنسټیزو وړاندیزونو وړاندې کولو لۀ پاره هم ضروري هنرونه نۀ لري او عمومي سلاکار د دغو خنډونو په اړه کافي پوهه نۀ لري او د وړ ملاتړ وړاندې کولو په اړه هم کافي پوهه نۀ لري.

کډوال په کاروبار کښې لۀ دې لۀ پاره جوړه کړې شوې وه چې په دغو کښې ځینې ستونزې هوارې کړی شي. د دې مهم مقصد دا دی :

*د داسې کډوالو لۀ پاره چې غواړي کاروبار پېل کړي په شته ملاتړ کښې د اوږدې مودې ښۀ والی وړاندې کول*

د کډوال په کاروبار کښې' ویب سایټ

دا ویب سایټ د پروژې په اړه معلومات را یو ځای کوي چې پکښې وړاندیز، کېس لوستنې، لارښودونه، او اوزار کټونه او د روزنې مواد شامل دي.

د کاروبار پېل کولو لۀ پاره د ځان سره په خپله مرسته کولو لۀ پاره لارښودونه

دا به تاسو د دې جوګه کړي چې دا پرېکړه وکړی شئ چې ولې کاروبار کول د تاسو لۀ پاره وړ دي او تاسو سره د کاروبار پېل کولو کښې مرسته کوي.


(Pushto)
© The Prince’s Trust and the Refugee Council 2006

rib
REFUGEES INTO BUSINESS

## د عمومي کاروباري سلاکارانو لهٔ پاره اوزار کټ

دا د کډوالو د مسائلو پهٔ اړه وروستی (background) لري او هغه خبرې هم لري د کومو پهٔ اړه چې باید کاروباري سلاکار پوهه ته اړتیا ولري کله چې هغه د کډوال سره د کاروبار پېل کولو کښې مرسته کوي.

## د کډوالو د تنظیمونو لهٔ پاره اوزار کټ

پهٔ دې کښې بنسټيز کاروباري وړاندیز او مرسته شامله وي چې عمومي کاروباري سلاکاران به ځنګه پيدا کړی شي او ځنګه به ورسره کار وکړی شي.

## د روزنې کورسونه

دا پروژه د بنسټيز کاروباري وړاندیز، د کډوالو پوهنې (ادراک) او د کډوالو کاروباري وګړو لهٔ پاره د کاروبار پېل کولو پهٔ اړه د روزنې کورسونه جوړوي.

مونږ امید لرو چې تاسو به دا ویب سایټ ځان لهٔ پاره ګټور و مومئ. لطفاً د هر ډول وړاندیزونو پهٔ اړه مونږ سره اړیکی و نیسئ.

 (Pushto) © The Prince's Trust and the Refugee Council 2006